# تاسي ځان محسوسوئ...

يوازې؟

په کار کې له خپل حقوقو څخه بې خبر يئ؟

په انګليسی ژبه کولو کې مرستې ته اړتيا لرئ؟

Usdaw له تاسې سره مرسته کولای شي – موږ ستاسې د سوداګری اتحاديه يو.

## له شريکيدو نرخونه

د Usdaw د غړيتوب بيه د سوداګری د اتحاديو په حرکت کې په کمو بيو کې يوه ده، چې د ورځې په يو څو پنسونو د اعلی معيار مختلفې ګټې او مسلکي خدمات ورکوي.

## له نورو معلوماتو يا له Usdaw سره د شريکيدو لپاره:

- د خپل Usdaw د نماينده سره اړيکه ونيسئ
- د خپل Usdaw د سيمه ييز دفتر سره اړيکه ونيسئ
  **0800 030 80 30**
- زموږ ويب پاڼه وګورئ
  **www.usdaw.org.uk**

Usdaw
Union of Shop, Distributive and Allied Workers

د دې کتابګوټي معلومات د چاپ په نيټه دقيق دي – جولای 2017.

شيږ د پام وړ علتونه چې ولې بايد تاسې له Usdaw سره شريک شئ
- ستاسې د سوداګری اتحاديه.

Pashto

د Usdaw له خوا نشر شوي
188 Wilmslow Road
Manchester M14 6LJ

Usdaw
Union of Shop, Distributive and Allied Workers

# شپږ د پام وړ علتونه چې ولې باید تاسې له Usdaw سره شریک شئ...

1. موږ له خپل غړیو سره په دې اړه مرسته کوو چې په کار کې د خپل حقوقو څخه ځان خبر کړي. د مثال په توګه، تاسې ته پته ده چې تاسې حق لرئ چې:

   – د بالغانو لپاره ترټولو کمه تنخا څه ده. په دې کې هر کال اضافه کیږي او د 1 اپریل 2017 راهیسې دا په دې ډول ده:

   له 25 کلن او زیات عمر کسانو لپاره د یو ساعت £7.50

   له 21 څخه تر 24 کلن عمر کسانو لپاره د یو ساعت £7.05

   له 18 څخه تر 20 کلن عمر کسانو لپاره د یو ساعت £5.60

   له 16 څخه تر 17 کلن عمر کسانو لپاره د یو ساعت £4.05

   – په کال کې 28 ورځې رخصتي چې تنخا یې ورکول کیږي (له هغه کسانو لپاره چې په اونۍ کې 5 ورځې کار کوي).

   – په ورځ کې 11 ساعته آرام.

   – زیاتره کارکوونکي له دریو ورځو د ناروغۍ وروسته د ناروغۍ د تادیې ترلاسه کولو مستحق وي.

2. موږ د خپلو غړیو د ستونزو په اړه د اداري سره خبرې کوو او د ډیسپلن په اوریدنه کې ستاسې نمایندګي کوو.

3. په کار کې د څه پیښې رامنځته کیدو پرمهال، ناوړه موقوفولو او تبعیض په وضعیت کې موږ خپل غړیو ته وړیا قانوني مشوره ورکوو او د هغوی نمایندګي کوو.

4. موږ له خپلو غړیو سره مرسته کولای شو چې د انګلیسی ریاضی او کمپیوټري مهارتونو پشمول په بېلابېلو موضوعاتو وړیا روزنې ترلاسه کولو ته لاس رسی ولري.

5. موږ د توکمپالنې پر ضد کمپاین چلوو او له ټولو کارکوونکو سره ورته چلند کولو ته ترفیع ورکوو.

6. موږ د خپل غړیو د تادیې او کاري ژوند په ښه کولو کې مرسته او همکاري کوو

- هر یو تن د سوداګرۍ له اتحادیې سره یوځای کیدی شي.
- تاسې د سوداګرۍ له اتحادیې سره د یو ځای کیدو قانوني حق لرئ.
- دا ضروري نه ده چې تاسې خپل ګومارونکي ته ووایئ چې تاسې د سوداګرۍ د اتحادیې غړي یئ.
- له دې کبله ستاسې سره تبعیض کول چې تاسې د سوداګرۍ د اتحادیې غړي یئ، غیر قانوني دی.